**پوهندوی آصف بهاند**

# د پوهاند دوديال علمي ـ فرهنگي هڅې

## او

## کوچنيانو ته يې فولکلوريک نکلونه

**دوديال د نوي نسل د روزلو په برخه کې د يوې کاميابې داسې بېلګې حيثيت لري چې ساری به يې لږ ليدل شوی وي او ترسره کړي کارونه يې د ده معاصرينو ته او تر ده لاندې نسل ته د زدکړو او کار مثبت پيامونه لېږدوي.**

(آصف بهاند)



د دې مقالې د بحث موضوع د دانشمند استاد پوهاند محمد بشير دوديال ژوند، علمي ـ فرهنگي هڅې او د دې هڅو په ترڅ کې د ماشومانو او کوچنيانو له پاره د ده په قلم يو لړ ليکل شوې لنډې کيسې، يو ناول او څو فولکلوريکې کيسې دي. درانه استاد دوديال صاحب، د نورو علمي ـ فرهنگي هڅو تر څنګ، له پخوا نه هم د کوچنيانو ادبياتو مهموالي ته پام و، خو په دې وروستيو کې يې له خپلو مشرانو نه د څو اورېدلو فولکلوريکو کيسو په بيا ځلې ليکلو سره، د کوچنيانو ادبياتو ته نور هم پام وراړولی دی.

زموږ د اوسنيو قلمولو د فرهنگي هڅو په لړ کې هر ښاغلي چې د نوي نسل د روزلو او کوچنيانو ادبياتو له پاره څه څېړنيز، تخليقي کار کوي يا په دې برخه کې ژباړې کوي، زه د نوي نسل د روزلو او تعليمي نهضت د يو پلوي په توګه، د دې پروسې د لا تشويق او غني کېدو په خاطر، خامخا د هغه شخص پر ترسره

کرېيو کارونو يو څه ليکم او د خپلې ليکنې په پيل کې د ياد شخص د ښې پېژندنې له پاره د هغه لنډه يا اوږده بيوګرافي را اخلم.

کله چې ما د دوديال صاحب په بيوګرافۍ پسې لټه پيل کړه، په دوو ځايونو کې مې پيدا کړه:

ــ په ويکيپېډيا کې چې ډېره لنډه وه،

ــ په افغان جرمن پورټال کې چې د اثارو لست يې نيمګړی و.

په افغان جرمن پورټال کې بيوګرافي وه، خو د اثارو لست نيمګړی و، بيا نو زه د دې مقالې د لا غنا په پار اړ شوم چې له استاد دوديال نه د ده د اثارو د بشپړ لست غوښتنه وکړم.

څنګه چې د پوهاند محمدبشير دوديال بيوګرافي د ده د پرباره علمي ژوند، زدکړو، ترسره کړو علمي ــ فرهنګي او اداري کارونو او ليکنو په سبب ډېره اوږده ده، زه يې دلته د همدې مقالې د حوصلې په اندازه په لنډ ډول په افغان جرمن پورټال کې د اېښودل شوي بيوګرافۍ او د ده له لوري د رالېږلو معلوماتو پر بنسټ، ځينې برخې را اخلم. له استاد دوديال نه نړۍ مننه چې د دې مقالې د ليکلو له پاره يې زما پوښتنو ته ځوابونه وليکل او اړين معلومات يې ما ته راولېږل.

## د پوهاند محمد بشير دوديال لنډه پېژندګلوي او آثار:

پوهاند محمدبشيردوديال د علي محمدخان حسين خېل زوی، په ۱۳٤۰ ش کال، د کابل په ولايت کې نړۍ ته سترګې پرانيستي دي.

لومړنۍ او منځنۍ زده کړې يې د کابل ښار د سردار محمد جانخان او حبيبيې په عالي لېسو کې بشپړې کړې او د حبيبيې له عالي لېسې څخه فارغ شوی دی.

لوړې زده کړې يې د ماسترۍ (MS c. Hons) په سويه بشپړې کړې دي.

له دې پورته يې د (Micro Economics) یوه دوره د آلمان هېواد د رور- بوخم (RUB) په پوهنتون کی په برياليتوب سره بشپړه کړی ده.

په هېواد کې دننه او بهر کې يې ګڼ شمير کنفرانسونو، ورکشاپونو او سيمينارونو کی ګډون کړی دی او مقالې يې اوروليږ دي...

پوهاند محمد بشير دوديال په ګڼشمېر علمي او اداري تشکيلاتو کې کار کړی دی او د ګڼو علمي شوراګانو او کميټو علمي او اداري غړيتوب يې درلود او لري يې. دا يې څو بېلګې دي:

په کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون کې د کرنې، د وترنرۍ علومو، عامه اداري او پاليسي، ژورناليزم او اقتصاد پوهنځيوکې يې تدريس کړی دی.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړی او د اريانا داېرةالمعارف انستيتوت مشر، د وترنرۍ علومو د پوهنځي مرستيال، په GTZ/PAL کې ترينر، د اداري اصلاحاتو په کمېسون کې، د اداري د کورس استاد، په کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون او خراسان پوهنتون کې د ماسترۍ او لیسانس دورې استاد پاتې شوی دی.

په پېښور کې د افغانانو د پوهنتون استاد، په ننګرهار پوهنتون کې د تقرر او انفکاک کمېټې غړی، د علمي ترفيعاتو کمېټې غړی، د کانکور کمېټې غړی، د پوهنتون د اعتبار موندنې د تضمين او ځان ارزونې

کیمټې غړی، د پوهنتون د نصاب د کمیټې مسئول، د نشراتو د بورد او د یو شمېر مجلو او اخبارونو (پوهه، انګازه، ارزښت، آرین، ننداره او افغان یووالي) د لیکنې هئیت د غړي په توګه یې مسئولیتونه ادا کړي دي.

د تدریس ترڅنګ، څه موده د ننګرهار پوهنتون د نشراتو مدیر، بیا د اقتصاد پوهنځي تدریسي مدیر، وروسته د اقتصاد پوهنځي مرستیال او درې دورې د پوهنتون د علمي شوراغړی ؤ. څه موده د «پوهه» علمي مجلې مسئول مدیر او دوه کاله یې د (A.H.F) د دفتر فرهنګي څانګه کې کار کړی دی.

د دې ترڅنګ په ۹۳-۱۳۹۲کلونو کې د معارف د نصاب نوي کولو کې بوخت و. دوه کاله یې د اریانا خصوصي پوهنتون د علمي مرستیال په توګه، درې کاله د خراسان پوهنتون استاد او د ماسترۍ د بورد آمر او یو کال یې د جامعه العلوم الاسلامیه د مشاور په توګه دنده درلوده. د ننګرهار پوهنتون د عامه ادارې او پالیسي د پوهنځي رییس او د دغه پوهنځي استاد او همدا رنګه په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو د مرکز د ادیتوریل بورد غړی او د افغانستان د پوهانو او متخصصانو د ټولنې

( Assembly of Scientists & Experts of Afghanistan)

د رهبرۍ (RASEA) د شورا او موسسینوغړی دی. اوس د افغانستان د لوی قاموس قلمي همکار هم دی...

**د پوهاند محمد بشیر دودیال د یو شمېر چاپ او خپرو شویو او چاپ ته چمتو اثارو نومونه دا دي:**

**الف ــ د چاپ شویو کتابونو ترتیب شوی لست:**

۱ ــ ګرځنده تیلفون (موبایل) د ژوند ملګری (ژباړه)، کابل پوهنتون کی د معلوماتو د مرکز چاپ، ۱۳۹۰کال،

۲ ــ اقتصادي پلان جوړونه، پوهنیارۍ علمي رتبې لوړېدو اثر، ژباړه،

۳ ــ د کرنیزې مناسبې تکنالوژۍ ستونزې او د حللارې، پوهنملۍ علمي رتبې د لوېدو اثر، (څېړنه)،

۴ ــ د کرنې او صنعت متوازنه وده، پوهندوی عملي رتبې ته د لوړېدو اثر، (څېړنه)،

۵ ــ تانده غوټۍ (لنډې کیسې)، د افغانستان د لیکوالوټولنه، ۱۳۵٦- کابل، دولتي مطبعه،

۶ ــ د کرنې پلان جوړونه (علمي- مسلکي ژباړه)، د کرنې وزارت د کرنیز تبلیغ ــ ترویج او زده کړو ریاست خپرونه،۱۳٦٦ کال، کابل،

۷ ــ په کرنه کې د طبیعي منابعو پلان جوړونه (دغه مسلکي اثر د مني د کښت د کمپاین په مناسبت په ۱۳٦۸ کال کې د کرنې وزارت د ترویج د ریاست له خواخپور شوې و.)،

۸ ــ شاهین (د لنډو کیسو مجموعه)، اردو مطبعه، کابل، ۱۳٦۷ ل.هـ کال،

۹ ــ د مینې ډالۍ (ناول) د لیکوالو، ټولنه، کابل، ۱۳٦۷، دولتي مطبعه،

۱۰ ــ دشواریهای بازگشت اواره گان افغان، مرکزمطالعات افغانستان (ASC)، پېښور، ۱۳۷۷ کال، تاپ پرنټز- پاکستان،

۱۱ ــ د افغانستان د طبیعي سرچینو پېژندنه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني ــ کولن، ۱۳۷۹ (۲۰۰۰ م.)،

۱۲ ـ حیات وحش افغانستان، چاپ مرکزمنابع نشراتی و اطلاعاتی اکبر (ARIC)، پېښور- پاکستان، ۱۳۸۱ش. کال،

۱۳ ـ د اقتصادي پرمختیا تیوري او پلان جوړونه، د ختیځ بیارغاونه (KOR ) د خپرونو څانګه،

۱۴ ـ صنایع در افغانستان و نقش انها در اقتصاد ملی، چاپ کتابخانه های اریک، نمبرمسلسل: ۱۲۶، ۱۳۸۲ ش. کال، پېښور- پاکستان،

۱۵ ـ دیموګرافي او د نفوسو تحلیل (د پوهنتون درسي کتاب)، لومړی چاپ۱۳۸۲ ش، او بیا په دوهم ځل۱۳۹۲کال)، دانش خپرندویه ټولنه،

۱۶ ـ نباتات طبی، چاپ دفتر اکبر، انتشارات الازهر، پېښور- پاکستان، ۲۰۰٤م ــ ۱۳۸٤ش. کال، (دغه کتاب دوه ځله خپورشو)،

۱۷ ـ احصائیه، د پوهنتونونو لپاره درسي کتاب، (دا کتاب لس ځلي چاپ شوی دی)، خپروونکي: ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، پېښور (۸۱، ۸٤، ، ۱۳۹۸ـ۱۳۸۷ش کلونه) او څلور ځله نور ګودر کتاب خپرولو ټولنې او یو ځل د لوړو زده کړو وزارت د (DAAD) پروګرام په مالي مرسته خپورکړی دی،

۱۸ ـ اصل خلجی های افغانی (ژباړه)، ۱۳۸۹ش، د میوند کتاب چاپولو مؤسسه،

۱۹ ـ پښتو ریاضي ۱۳۸۸ ش، سبا نشراتي مؤسسه،

۲۰ ـ د تصوف حقیقت، ۱۳۸۹ ش. (ژباړه)، میوند خپرندویه ټولنه،

۲۱ ـ اداره، ګودر خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۸ش. په پښتو او دري ژبو شل ځله چاپ شوی دی،

۲۲ ـ غزنوي سلطان محمود، ژوند او پېښلیک (ژباړه)، د میوند خپروندیې ټولنې چاپ،

۲۳ ـ د علمي تجربو طرح او ډیزاین، ګودر خپرندویه ټولنه، ۱۳۸٤ش، درسي کتاب،

۲۴ ـ په پینځه ټوکو کې د یو شمېر سبو تولید او روزنه (له پوهنمل سیداجان عبدیاني او پوهنیار محمداسماعیل سعادت سره په ګډه)،۱۳۸۵ش کال، او د یو شمیر سبو مارکیټنګ،

۲۵ ـ د ننګرهار ولایت او جلال اباد ښار پېژندنه (له اسدالله حصار شاهیوال او سید پاچا باور سره په ګډه)،

۲۶ ـ مرکه (د لنډو کیسو ټولګه)، (امین افغانپور، ډاکټر اسدالله حبیب او ببرک ارغند سره په ګډه)، کمیته دولتی طبع و نشر، دولتی مطبعه، کابل ــ افغانستان،

۲۷ ـ په افغانستان کې د ګانو جوړلو هنر، ۱۳۹۱(ژباړه)،

۲۸ ـ سوداګري د ټولو لپاره (ژباړه)، ۱۳۸۸ش. کال- کابل، ۱۳۸۸،

۲۹ ـ د خریداری هیأت (د طنزونو مجموعه، ۱۳۸٦ ش.کال، سبا (میوند) خپرندویه ټولنه،

۳۰ ـ پښتو ریاضي (ژباړه)، ۱۳۸٦ ش.کال، پېښور، دا کتاب دوه ځله خپورشوی دی،

۳۱ ـ د طبیعي منابعو اقتصاد (د پوهنتونونو لپاره درسي کتاب)، لومړی چاپ:۱۳۸٤ ش ـ د لوړوزده کړو وزارت، دویم چاپ: ۱۳۸٦ ش. کال، دریم ځل ۱۳۸۹ ش.کال)،

۳۲ ـ نګهداری و پرورش بز در افغانستان (ژباړه)، ۱۳۹۰ کال،

۳۳ ـ په افغانستان کې هنر او ښکلي هنرونه (ژباړه)، دوه ټوکه، ۱۳۹۰ کال،

۳۴ ـ د اقتصادي پروژو تحلیل او مدیریت، د اقتصاد پوهنځی لپاره درسی کتاب، لومړی چاپ:۱۳۹۰، دوهم چاپ: ۱۳۹۴ل. دریم چاپ: ۱۳۹۶ کال،

۳۵ ـ سرگرمی با اعداد و رشد استعداد های شما، مرکز خدمات کمپیوتری شیبر، ۱۳۸۹ل کال، د (توانا/ABLE) د کتابونو لړۍ ۱۸۴ گڼه،

۳۶ ـ د مدیریت علم (ژباړه)، د اقتصاد پوهنځي لپاره درسی کتاب، لومړی چاپ: ۱۳۹۲، دوهم چاپ: ۱۳۹۳ل کال، گودر خپرندویه ټولنه،

۳۷ ـ اسانه محاسبه، دا کتاب دوه ځلې گودرخپرندويې ټولنې خپور کړی دی، ۱۳۸۹ کال،

۳۸ ـ ولایتي شوراگانې د ملی یووالې په لوري دریځې (ژباړه)، ۱۳۸۹ل کال، کابل ــ افغانستان،

۳۹ ـ غوره شوي حکایتونه او په زړه پورې مطالب (ژباړه)، دوه ټوکه،

۴۰ ـ په افغانستان کې د ترکاڼي (د لرگـي د تخنیک) د هنر زده کړه او لارښود (۲ټوکه) ، د ABLE د پروگرام چاپ، ۱۳۹۱ کال،

۴۱ ـ د ژویو او ځارویو په زړه پورې نړۍ، گودر خپرندویه ټولنه،۱۳۹۱کال،

۴۲ ـ کوچنی او تطبیقی اقتصاد (ژباړه) د اقتصاد پوهنځي لپاره درسي کتاب، د اقتصاد د پوهنځي له استاد، پوهنمل زبیر نورمل سره په گډه،

۴۳ ـ عامه اقتصاد ( ژباړه)، درسي کتاب، د اقتصاد پوهنځي له استادانو پوهیالی عبدالله عادل او پوهیالی اخترغنی سره په گډه،

۴۴ ـ افغانستان د تاریخ په تکلوري کی (د ادافغانستان د ستر مورخ میرغلام محمد غبار د «افغانستان در مسیر تاریخ» نامتو کتاب ژباړه ده، لومړی چاپ، ۱۳۹۳،

۴۵ ـ معرفی تکنالوژی محلی افغانستان، چاپ مرکز معلومات افغانستان در پوهنتون کابل، چاپ اول۱۳۹۲، چاپ دوم ۱۳۹۷،

۴۶ ـ د انسانانو او ژویو په ژوند کې د ونو- بوټو اهمیت، ژباړه، (۱۳۹۰) (ACKU ) پرله پسې نومره۲۳۳، کابل- افغانستان،

۴۷ ـ نقش و اهمیت صرفه جویی در مصارف، ۱۳۹۱(۲۰۱۲ل.)، په کابل پوهنتون کـې د افغانستان د معلوماتو مرکز د (USAID) په مالي مرسته چاپ کړی دی،

۴۸ ـ په افغانستان کې اقتصادي ـ اجتماعی پلانونه او د هغو په طرح، جوړولو او تطبیق کې د جمهور رییس محمد داوود خان ونډه، مومند خپرندویه تولنه،۱۳۹۱ل کال،

۴۹ ـ د افغانستان یوه لنډه دیارلس کلنه تجربه: بهرنۍ مرستې، ملی پرمختیایی ستراتیژي او د بازار نظام ته کتنه، گـودر خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۲کال،

۵۰ ـ په افغانستان کې د بنوالی د ترویج او پراختیا لارې - چارې (ژباړه)،۱۳۹۲کال، په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتومرکز، د موج طباعتی او تبلیغاتی شرکت چاپ،

۵۱ ـ په کور او ګــلتون کې د ګـلانو روزنه (ژباړه)، ۱۳۹۵کال، د ایبل نشرات، کابل- افغانستان،

۵۲ ـ د سازمانی اړیکو مدیریت (درسی کتاب)، ۱۳۹۴ل کال، یار خپرندویه ټولنه،

۵۳ ـ د سازمانی شخړو مدیریت (درسی کتاب) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل. دویم چاپ ۱۳۹۹ل، ی‌ار خپرندویه ټولنه، جلال اباد،

۵۴ ـ د مالي خطرونو مدیریت (درسی کتاب)، لومړی چاپ ۱۳۹۵ل کال، دویم چاپ ۱۳۹۸ل کال، ختیځ کتاب خپرولو ټولنه،

۵۵ ـ په افغانستان کې د غالۍ اوبدلو صنعت، ۱۳۹۵ل کال، په کابل پوهنتون کی د معلوماتو د مرکز چاپ،

۵۶ ـ د دیموکراسۍ او ټولټاکنو مفهومونه (ژباړه)، ۱۳۹۶ل کال، خپروونکی: ACKU،

۵۷ ـ منطقوی اقتصاد (درسی کتاب)، لومړی جاپ ۱۳۹۶ل کال، کتاب خپرندویه ټولنه، دویم چاپ ۱۳۹۸ل کال،

۵۸ ـ په افغانستان کې میناتور (ژباړه)، د ځواکمن/ توانا د پروګرام چاپ، ۱۳۹۶ل کال، کابل- افغانستان،

۵۹ ـ د اقتصاد تشریحی قاموس (په ۵۲۰ مخونو کې د ۱۷۵۰ اصطلاحاتو تشریح)، ۱۳۹۶ل کال، مومند خپرندویه ټولنه،

۶۰ ـ کرنیز تمویل (د افغانستان د کرنې د پوهنځیو لپاره درسی کتاب)، له ښاغلی پوهنیار ضیاالرحمن راسخ سره په ګډه، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۶ل کال،

۶۱ ـ د اقتصادی پرمختیا تیوري، لومړی چاپ ۱۳۹۴، دوهم چاپ ۱۳۹۶ل کال،

۶۲ ـ د بشري سرچینو مدیریت (ژباړه)، د عامه اداري او پالیسی د پوهنځي لپاره درسی کتاب،

۶۳ ـ د کرنې تشریحی قاموس، ۱۳۹۸ل کال (په ۴۰۰ مخونو کې د ۱۵۰۰ اصطلاحاتو تشریح)،

۶۴ ـ د درملو اداره او تنظیم (ژباړه)، د پوهاند غضنفر د روغتیایی انستیتوت لپاره درسي کتاب، ۱۳۹۷ ل کال،

۶۵ ـ موږ بیرته خپل کلي ته ځو، ۱۳۹۷ل کال، دغه رومان په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز د ځوانانو د ادبیاتو په مناسبت په دري پارسی هم ژباړلی او چاپ کړی دی،

۶۶ ـ د طبیعی منابعو مدیریت او د چاپیری‌ال ساتنې پالیسی، درسي کتاب، ۱۳۹۶ ل کال،

۶۷ ـ عامه اداره (ژباړه)، په دوو ټوکـونو کې، ۱۳۹۸ل کال، د عامه اداري او پالیسۍ پوهنځي لپاره درسی کتاب،

۶۸ ـ د مدیریت اصول او بنسټونه (ژباړه)، ۱۳۹۷ل کال،

۶۹ ـ په افغانستان کې د خط او خطاطی بدلون ته کتنه، ۱۳۹۱ل کال،

۷۰ ـ د افغان پنا اخیستونکو د ژوند یو څو کیسې (ژباړه)، ۱۳۹۳ ل کال،

۷۱ ـ ګټور خواړه (ژباړه)، ۱۳۹۶ ل کال،

۷۲ ــ افغانستان زما هېواد (ژباړه)، ۱۳۹۴ ل کال،

۷۳ ــ د ملکي خدمتونو د بستونو لپاره د کانکور لارښود (له استاد میر احمد مهمانی سره په ګډه)، ۱۳۹۸ل کال،

۷۴ ــ د پروژې مدیریت په عمل کې (له انګلیسی څخه ژباړه)، درسي کتاب، ۱۳۹۹ل کال، دلوړو زده کړو وزارت د «Germanic» د درسي کتابونو د تالیف او خپرولو دفتر،

۷۵ ــ د عامه مالي چارو بنسټونه (ژباړه)، ۱۳۹۲ ل کال، د اقتصاد پوهنځي لپاره درسي کتاب،

۷۶ ــ صنعتی اقتصاد، د اقتصاد د پوهنځیو درسي کتاب، د لوړو زده کړو وزارت د «Germanic» درسي کتابونو د برنامې دویم چاپ،

۷۷ ــ کوچنی اقتصاد (ژباړه)، درسي کتاب، ګودر کتاب خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ل کال، (له محمد زبیر نورمل سره په ګډه،

۷۸ ــ د اداری کار کوونکو لپاره د کانکور لارښود، ګودر کتاب خپرولو ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۸ل کال،

۷۹ ــ د عامه اداري او مدیریت تشریحي ډکشنری (اکسوس خپرندوی مرکز)، ۱۳۹۹ ل کال.

۸۰ ــ اداری مکاتیب او تجهیزات، اکسوس له خوا همدا سږکال (۱۴۰۰ ل) خپور کړی دی.

**چاپ ته چمتو:**

۱ ــ اقتصادي سنجشونه، درسي کتاب،

۲ ــ ورک شوی پل، د لنډو کیسو مجموعه،

۳ ــ ازینجا تاشمالی کار دارم، مجموعه ی داستانهای کوتاه،

۴ ــ د مدیریت بنسټونه.

دا ویل اړین ګڼم چې دودیال صاحب چې له خپل مسلک پرته په کومو برخو کې فرهنګي فعالیت کړی دی، چې بېلګې او لاسته راوړنې یې په لنډ ډول پاس یادې شوې، دا هره برخه کېدای شي د یوې جلا موضوع په ډول وڅېړل شي.

دغه راز پوهاند دودیال د خپلو فرهنګي ــ علمي هڅو په لړ کې، په بېلابېلو وختونو کې یو دېرش عنوانه کتابونو ته، د علمي تقریظ لیکلو په موخه، هغه لوستي دي او د هغو له پاره یې علمي تقریظونه لیکلي دي.

دغه راز پوهاند دودیال د بېلابېلو علمي فرهنګي موضوعاتو په باب ګڼشمېر مقالې لیکلي دي چې د ده په وینا شمېر یې تر پنځه سوو اوښتی دی.

پوهاند محمدبشیر دودیال د ماستری ترکچې پورې زدکړې کړېدي او د خپل کار او تدریس په موده کې یې د تدریس او اداري چارو تر څنګ، په لسګونه کتابونه او په سلګونو مقالې لیکلي دي او د خپل مسلک حق یې ښه ور ادا کړی دی.

پوهاند دودیال تر خپل مسلک وروسته د فرهنګ په ځینو نورو برخو کې هم فعالیتونه کړي دي چې دلته به یې لنډه یادونه وکړم:

۱ ــ د ادبي تخليقاتو په ډګر کې،

۲ ــ طنز ليکنه،

۳ ــ د ژورناليزم په ډګر کې،

۴ ــ د ژباړې په برخه کې،

۵ ــ قاموس ليکنه،

۶ ــ د کوچنيانو ادبياتو په برخه کې د پوهاند دوديال هلې ځلې.

۱ ــ د ادبي تخليقاتو په ډګر کې:

دوديال صاحب د هنري ادبياتو په دوو برخو کې تخليقات کړي دي:

الف ــ لنډې کيسه،

ب ــ ناول.

د لنډو کيسو په برخه کې يې فعاليت د ډېرې پاملرنې وړ ى او تر ډېرو يې د پښتو هنري نثر حق ور اداکړى دى. تر اوسه يې زما له نظره د لنډو کيسو درې ټولګي تېرې شوې دي، ښايي د لنډو کيسو نورې چاپ ټولګي يا ناچاپ کيسې هم ولري، چې زه پرې خبر نه يم.

د فرهنګي کارونو په برخه کې د ده تخليقي اثار، په تېره لنډې کيسې د ځانګړې پاملرنې وړ دي. سره له دې چې د دوديال صاحب د زدکړو او کار ساحه بيخي له ادبي تخليقاتو سره فاصله لري، خو ده د خداى ورکړي استعداد او پرلپسې او نه ستړې کېدونکي کار په پايله کې ادبي تخليقات هم کړي دي چې ما ته يې د لنډو کيسو دا ټولګي مالومې دي:

ــ تانده غوټۍ، چې په ۱۳۵٦ل هـ کال د افغانستان د ليکوالوټولنې چاپ کړې ده،

ــ  شاهين، په ۱۳٦۷ ل.هـ کال په اردو مطبعه کې چاپ شوې ده،

ــ مرکه، دا د ځو ليکوالو د لنډو کيسو ګډه ټولګه ده چې د دوديال صاحب ځو کيسې هم په کې راغلې دي او د چاپ او خپرونو دولتي کميټې له خوا چاپ شوې ده.

ــ ورک شوى پل، چاپ ته چمتو،

ــ ازينجا تاشمالی کار دارم، چاپ.

په هنري نثر کې د ښاغلي دوديال بل تخليق د ناول ليکنې په برخه کې دى. ما ته تر اوسه د دوديال دوه چاپ شوي ناولونه مالوم دى چې يو يې «د ميني ډالى» نومېږي او په ۱۳۶۷ ل هـ کال په کابل کې د افغانستان د ليکوالو، ټولنې خپور کړى دى او بل يې «مورِ بيرته خپل کلي ته ځو» عنوان لري چې په ۱۳۹۷ل کال چاپ شوى دى او په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز د ځوانانو د ادبياتو په مناسبت، دري پارسی ته هم ژباړل شوى او چاپ کړى يي  دى.

۲ ــ طنز ليکنه،

د طنز لیکنې په برخه کې هم دودیال صاحب لاسته راوړنې لري. زما د معلوماتو له مخې تر اوسه پورې د ده د طنزونو یوه ټولګه خپره شوې ده چې «د خریدارۍ هيأت» نومېږي. د دودیال صاحب د طنزونو دا ټولګه په ۱۳۸٦ ش.کال، سبا (میوند) خپرندویې ټولنې خپره کړې ده.

## ۳ ـ د ژورنالیزم په ډګر کې:

پوهاند محمدبشیر دودیال کله، کله د ژونالیزم په ډګر کې هم قدم ایښی دی، ژونالستیکي فعالیت یې کړی دی او کله د مسؤل مدیر د نده هم ورسپارل شوې ده.

د نشراتو د بورد غړیتوب او د یو شمېر مجلو او اخبارونو (پوهه، انګازه، ارزښت، آرین، ننداره او افغان یووالي) د لیکنې هئیت د غړي په توګه یې مسئولیتونه ادا کړي دي. دغه راز څه موده د ننګرهار پوهنتون د نشراتو مدیر او په پای کې د یوې مودې له پاره د «پوهه» علمي مجلې مسئول مدیریت هم ورسپارل شوی دی چې ده دا هرڅه په پوره ایمانداری او بریالیتوب سره ترسره کړي دي.

## ۴ ـ د ژباړې په برخه کې:

د دودیال د فرهنګي کارونو بله برخه د ده ژباړې دي. دودیال په خپله څانګه کې ژباړې ډېرې کړې دي او ګڼشمېر درسي کتابونه یې ژباړلي دي چې څینې یې د افغانستان په بېلابېلو پوهنتونونو کې تدریسېږي. دا د ده د ژباړل شوو کتابونو څو بېلګې دي:

ـ د کرنې پلان جوړونه (علمي- مسلکي ژباړه)،

ـ سوداګري د ټولو لپاره،

ـ پښتو ریاضي،

ـ نګهداری و پرورش بز در افغانستان،

ـ د مدیریت علم،

ـ ولایتي شوراګانې د ملی یووالې په لوري دریځې،

ـ کوچنی او تطبیقی اقتصاد،

ـ عامه اقتصاد،

ـ د انسانانو او ژویو په ژوند کې د ونو- بوټو اهمیت،

ـ په افغانستان کې د بنوالی د ترویج او پراختیا لارې – چارې،

ـ په کور او ګلتون کې د ګلانو روزنه،

ـ د دیموکراسۍ او ټولټاکنو مفهومونه،

ـ د بشري سرچینو مدیریت،

ـ د درملو اداره او تنظیم،

ـ عامه اداره په دوو ټوکـونو کې،

ـ د مدیریت اصول او بنسټونه،

ـ د افغان پنا اخیستونکو د ژوند یو څو کیسې،

ـ ګټور خواړه،

ـ د پروژې مدیریت په عمل کې (له انګلیسی څخه ژباړه)،

ـ د عامه مالي چارو بنسټونه،

ـ کوچنی اقتصاد،

له دې سربېره دودیال صاحب په نورو برخو کې هم ژباړې کړې دي لکه د هنرونو او تاریخ په برخه کې. دا یې بېلګې دي:

ـ اصل خلجی های افغانی،

ـ افغانستان زما هېواد،

ـ افغانستان د تاریخ په تګلوري کی (دا د افغانستان د ستر مورخ میرغلام محمد غبار د «افغانستان در مسیر تاریخ» نامتو کتاب ژباړه ده،

ـ په افغانستان کې میناتور،

ـ په افغانستان کې هنر او ښکلي هنرونه،

ـ غوره شوي حکایتونه او په زړه پوري مطالب، دوه ټوکه.

## ۵ ـ قاموس لیکنه:

دودیال صاحب د قاموس لیکلو په برخه کې هم د پاملرنې او قدر وړ کارونه کړي دي. تر اوسه پورې یې دغه قاموسونه لیکلي دي:

ـ د اقتصاد تشریحی قاموس (په ۵۲۰ مخونو کې د ۱۷۵۰ اصطلاحاتو تشریح)، ۱۳۹۶ل کال، مومند خپرندویه ټولنه،

ـ د کرنې تشریحی قاموس، ۱۳۹۸ل کال (په ۴۰۰ مخونو کې د ۱۵۰۰ اصطلاحاتو تشریح)،

ـ د عامه ادارې او مدیریت تشریحي ډکشنرى (اکسوس خپرندوى مرکز)، ۱۳۹۹ ل کال.

د یادونې وړ ده چې همدا اوس هم د قاموس لیکلو له تجربې نه په استفادې سره استاد دودیال د افغانستان د لوى قاموس په لیکلو کې چې د «افغان جرمن پورتال» په اړخ کې یوه لویه علمي پروژه ده، همکاري کوي.

## ۶ ـ د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې د پوهاند دویال هلې ځلې:

دودیال هسې تصادفي د کوچنیانو ادبیاتو ته پام نه دی وراړولی، د ده په لومړنیو تعلیماتو کې چې له کورنې چاپېریال نه راپیل شوي وو، دا تومنه ایښودل شوې وه.

د پوهاند محمد بشير دودیال کورنۍ یوه عالمه کورنۍ ده. د افغانستان د نوي معارف تاریخ ته که وکتل شي، د دودیال صاحب د کورنۍ مشرانو هم د نوي او عصري معارف د دودولو او عامولو له پاره کار کړی دی. په خپله پوهاند محمد بشير دودیال په دې هکله داسي لیکلي دي:

«... ډیر کوچنی وم، صرف یادیږی مې. زما د مور پلار(زما مورنی نیکه) مرحوم جنت مکان مولوی عبدالواحد د دوی له اصلی کلی یو څه کوز د (زړې کلا / قلعه ی کهنه) جومات کې ملا امام و. د لومړی ځل لپاره یی دغه کلی کی د ابتدائیه ښوونځی بنسټ کیښود. د هغه وخت د مکتب شاګردان یی لوی او پوه خلک شول، ځینی یې اوس بهر کی دي. یو يې د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځی کی استاد و چی د ۱۳۶۱ کال کی بهر ته مهاجر شو، بل یی جنرال زیارمل دی، بل يې اروابناد داکترارزو و. شاید ډیر نور به هم وی، خو دا تصادفاً چې یوه ورځ له استاد سره مخامخ شوم خبره د پیژندګلوی راغله، کله مو چی یوبل وپیژندل، ده سمدستی وویل ته خو زما د لومړنی استاد لمسی یی. جنرال ذبیح الله دې وروستیو کی څو ځله افغانستان ته سفر وکړ، زه جلال اباد کی وم، له راتګ سره سم یی کابل کې زما ورونه چې تر ده ډیر کشران دی وکتل او د دوی يې زښت ډیردرناوی کاو، نږدې و چې لاسونه یی مچ کړی. جنرال وایی چی زه د مولوی صیب عبدالواحد د مکتب له برکته جنرال شوی یم. داکتر ارزو د طب پوهنځی استاد او په میوند روغتون کی موظف ډاکترهم د دغه ښوونځی لومړنی شاګرد و. ده یوه موده مکرویانو کی او بیا په جاده کی کتنځی درلود، د هیواد نامتو داکتر و، ډیر عاطفی شخص و، کله به یی چی زه ولیدم د هغه وخت کیسی به یی کولی. (داکتر آرزو شپږ کاله مخکی د۷۱کالو په عمر د حق داعیی ته لبیک ووایه ، زوی یی اوس تکړه داکتر دی.) دا درې بیلګی د هغه ملا امام د درناوی یو مثال و چی لومړنی ښوونځی یی جوړ کړ. وروسته می بابا په معلم عبدالواحد مشهور شو. هغه مهال د چهاردهی حاکم (چې زموږ کلی د چهاراسیا په علاقداری او د چهاردهی حکومت پوری اړوند و) سپینه خاوره، د مشق د دړې تختی او هغه پښتو کتابونه را ولیږل چی لومړنی لوستونه یی داسی و:

آس

دا آس دی

دا د بابا آس دی...

خو ما په ښار کې، د لومړي ټولګی دا کتاب لوستی و:

آب

او آب داد

آب دادن ثواب دارد...

خبره می د معارف او مکتبونو راواخیسته. هدف می دا و چی کله هم زموږ خلکو؛ نه کلیو کی او نه ښارونو کی ښوونځی سره مخالفت ندی کړی، بلکی له امی نیولی تر عالم ټولو دعصری علومو پلویتوب کړی او دا علوم یی فرض کفایی بللی دی. آن دا چې هغه یې بهتر ګڼلي، ځکه چی دینی علوم هم په نوی شیوه تدریسوی. اوس زموږ هغه پخوانی کلی د ښوونځي له برکته ډیر پرمخ تللی، د محمداجان ماما او رجه غوندې بیوزله پکي ندي پاتي، هرو لسو کورنو کي اته يي خپل موټر لري، هغه خامه لاره اوس پوخ سړک دی، اوس د خلیفه محمدحسین پر ځای انجنیران روزل شوی دي...»

دودیال هم د خپلي عالمي کورنۍ په علمي چاپیریال لوی شو، زدکړې یې وکړي، لیکوال او د هېواد په لوړو پوهنتونونو کې مدرس شو او د خپلو نیکونو په څېر يې د وطن د نوي نسل روزلو ته ملا وتړله.

که د پوهاند دوديال ليکنې په ځير سره ولوستل شي، ليدل کېږي، سره له دې چې دی د عمر داسې پړاو ته ورننوتی دی چې اوس په لوړو پوهنتونونو کې تدريس کوي، په خپل قلم او پوهه باندې داسې حاکم دی چې په لسکونو کتابونه او په سلکونو مقالې يې ليکلي او خپاره کړي دي، خو دی د نوي نسل د روزلو په سلسله کې د کوچنيانو روزلو ته دومره پام کوي چې په همدې سن کې يې د ښوونځي د دورې درسونه په ياد دي او هغه ترانې چې ده د کوچنيوالي په دوره کې د ښونځيو په درسي کتابونو کې لوستي دي، تر اوسه يې په حافظه کې ساتلې دي او له ياده يې تکراروري او ليکي يې، چې دا خپله له معارف او تعليم سره د ده د مينې ښه نمونه کېدای شي. دا يې يوه بېلگه ده:«

**ترانه بهار**

**مژده که آمد بهار**

**سبزه و گل بیشمار**

**آب فراوان به باغ**

**گشته روان هرکنار**

**غچی و پروانه شد**

**زنده به بوی بهار**

**بلبل آبی کند**

**غلغله درجویبار**

**کرده شگوفه به باغ**

**درخت سیب و انار**

**برلب آب روان**

**سایهٔ بید وچنار**

**کوکوزنان فاخته**

**نشسته برشاخسار**

**به شاخ سروبلند**

**ناله کندزارزار**

**زخانه مور و ملخ**

**گشته روان سوی کار**

**توهم بدو پشت کار**

**ای پسر هوشیار**

**خاطره:**

بهارشد، ابربهاری با رعد وبرق لحظات متوالی میبارد وبعد پراکنده شده، آفتاب  نمایان میگردد. ابگیرهای خورد وبزرگ تشکیل میگردد... غُچی ها در فضا شادی کنان چرخ میخورند وبالای سیم برق به شکل قطار می نشینند...

یک چیزی به یادم می آید ! آن چیست ؟

روزهای اول سال، روز های مکتب رفتن، کتاب نو گرفتن، کتابچه و بکس. چه روزهای مملو از خوشی، چقدر روزهای پرسعادت بود. قدر آن را ندانستیم.

***

من درس خوانده دوران قلم نی، دوات و سیاهی، گل سفید و تخته چوبی ام. یک پارچه رخت نخی ۵X۴ سانتی متر یا اندکی بزرگ یا کوچکتر از آنرا در دوات میگذاشتیم، به اندازه دو نخود سیاهی را نیز در بوتل سرپوش دار(دوات) میگذاشتیم بعد هم چند قطره آب؛ کافی بود با قلم نی مشق را آغازکرد، ولی  باید از روی ملافه می نوشتیم، مشق نستعلیق!

گل سفید نیز باید در دوات بااضافه کردن چند قطره اب آماده میشد و روی تخته چوبی کارخانگی معلم خط (مکی جان) اجرا می شد تا خشک گردد وفردا همراه با بکس به مکتب برده شود، معلم از حُسن خط حیرت نماید،شاباس بگویدو بپرسد:  بچیم خودت نوشتی؟  با احترام واطمینان کامل : ها بلی، معلم صاحب!

معلم صاحب با دقت میدید، بعد تخته هم صنفی دیگرم را میدید: بد نیست،... اوبچه ! گِل را زیادابگین جور کردی، ...خط ات درست نیست، دیگام نوشته کو خوبیش نوشته کو اونه ببی... عایشه آرام نمی شی؟ پلوشه تره میگم آمدم بجانت ... افرین خط ات خوب است اما راست نوشته کن ازیک کنج تخته طرف کنج دیگر رفته !

صدای معلم صاحب در هنگام خشم نیز مملو از مهربانی بود. پسران ودختران منتظر می بودند تا کارهای خانگی دیده شود. زنگ تفریح ! با شنیدن آن دلها بیشتر می تپید و  هجوم بطرف کانتین، الوای سانک... نخود... و بابه قرباناز زیر ابروان انبوه مشتاقانه همه مار از کلکینچه مربع شکل کانتین از نظر می گذراند شانزده پولی و قرانهای سفید وزرد را جمع میکرد نخود وحلوای سانک(یکنوع شرینی بود) و کشمش نخودبه ما میداد....

عجب ! مثل اینکه همین حالا در مکتب خود هستم، با صنفی هایم؛ عوض علی، سید مقصود، قدوس، آصف، باقر...

ترانه بهار به یادم می آید، ایا خواننده عزیز این مقاله یقین خواهد کرد که این ترانه را همین اکنون نیز بیاد درام و از یاد نوشتم؟  نه تنها این ترانه را بلکه ترانه لاله آزاد : من لاله ازادم- در دشت مکان دارم  هم فطرت آهویم...

دونفر دزد خری را دزدیدند – سرتقسیم آن باهم جنگیدند- دزد سوم آمد خر شان را زد وبُرد !

(سوگند می خورم که این آخرین تصادفی یادم آمد هیچ اشاره و کنایه به سیاسیون امروز نیست)

موش وتلک:

موشکی ره به جوال گندم داشت ... قصه دو برادر و قصه ی شوربای مادر حسن...

***

چه ترانه و قصه های زیبا و آموزنده، مملو از پند وعبرت.

این ترانه ها، قصه ها و عنوانهای آموزنده به قلم کیها بود که امروزمثال شان را سراغ نداریم؟ یکی از آنان شادوران محمد آصف مایل بودند. خداوند روح شان را شاد داشته باشد.




محمد آصف مایل در سال ۱۲۸۸ش. در گذر باغ نواب کابل متولد و درسال۱۳۱۰از لیسه حبیبیه فارغ گردید، در سال۱۳۱۶ل. شامل پوهنځي حقوق وعلوم سیاسی شدو در سال ۱۳۲۰ل. سندلسانس گرفت. در سال ۱۳۳۳عازم ایالات متحده امریکا گردید و در رشته ی تعلیم وتربیه در پوهنتون کولمبیا تحصیل نمود، در مربوطات وزارت معارف آن زمان وظایف زیادی را به انجام رسانید. بعد هم مدیر مکتب ما؛ یعنی مدیر ما در لیسه حبیبه بودند...»

دودیال له معارف او د نوي نسل له روزلو سره د مینې له مخې په دې وروستیو کې د یو لړ داسې کیسو لیکلو ته خپل وخت بېل کړی دی چې هغه د ماشومانو او کوچنیان په روزلو کې بنسټیز رول لري او په اوس وخت کې پښتو ژبې ماشومان او کوچنیان اړتیا ورته لري.

دودیال له فولکلور څخه د دې نکلونو په لیکلو سره د کوچنیانو ادبیاتو ته کار پیل کړ، خو ډېر اساسي یې را پیل کړ. د کوچنیانو او د نوي نسل روزلو په لړ کې یې داسې لار غوره کړې ده چې تصنع نه لري، د خلکو مال دی او د خلکو له پاره د منلو وړ.

دودیال د فولکورویکو کیسو بیا لیکنه ځکه په ډېرې خوندورې ژبې سره کولای شي، چې تیاره د هنري ادبیاتو (لنډه کیسه او ناول) په لیکلو کې د کلونو، کلونو تجربه هم لري. ماشومان او کوچنیان کولای شي د فولکلور له لارې د همدې کیسو له لارې چې په خلکو کې مشهورې دي، خپل تاریخ نه خبر شي، خپل

رېښتي اتلان وېړني او د افسانوي اتلانو په باب معلومات ترلاسه کړي او دا کار دوديال صاحب په ډېره پسته ژبه راپيل کړی دی، په داسي ژبې سره چي د ماشومانو او کوچنيانو له پاه په زړه پورې، د پوهېدلو او منلو وړ ده.

ما «د کوچنيانو ادبيات، دويم ټوک» په يوه برخه کي د «په فولکلور کي د کوچنيانو د ادبياتو ځرک» ترسرليک لاندي، په فولکلور کي د کوچنيانو د ادبياتو ځرک په باب بحث کړی دی، د هغه په يوه برخه کي داسي راغلي دي:

«که د فولکلور په باب له اوږدو بحثونونه تير شو او په لنډ ډول ووايو چي پښتني فولکلور ښه بډای فولکلور دی، نو په دې بډای فولکلور کي د کوچنيانو له پاره څه شته که نه؟ او که وي نو څومره به وي؟
هوکې، په پښتني فولکلور کي دکوچنيانو له پاره ډير څه شته چي دوی ته څه ورزده کوي، په دوی کي هنري ذوق او عاطفه روزي او ټولنيزو فعاليتونو ته يې هڅوي. د پښتو ادبياتو په شفاهي برخه کې د کوچنيانو له پاره يو لړ سندرې، شعرونه، کيسي او متلونه شته چي يا په خپله د دوی له خوا ويل کيږي او جوړيږي، يا د لويانو له خوا د دوی د سويي، طرز تفکر او غوښتنو په نظر کي نيولو سره، د دوی له پاره ويل کيږي او جوړيږي. لکه د ميندو سندرې چي د پښتنو په بيلابيلو سيمو کي د کوچنياو له پاره د ميندو له خوا ويل کيږي. يوه ښه بيلګه يي د آللو فولکلوريکه سندره ده. دا سندره مور د ماشوم د ويده کولو په وخت کي په داسي حال کي وايي چي په يوه لاس ماشوم ټيوي، نو په ډير خواږه آهنګ سره دا سندره وايي:

**آللو، للو زويه**

**سر د شا زلمو زويه**

**آللو، للو پيشو**

**پيشو مه راځه له غرو**

**اڅک جان داسي ويده دی**

**لکه ګوډې د رنجو.»**

د زياتو معلوماتو له پاره دا ماخذ هم کتلای شئ:

(بهاند آصف، د کوچنيانو ادبيات، د چاپ او خپرونو دولتي کوميټه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۶ ل کال، ۲۸مخ)

دوديال صاحب هم همدې اصل ته په کتو سره، فولکوريکي منبع مهمي ګڼلي او له همدې منابعو څخه په استفادې سره دا کار پيل کړی دی چي دا کيسي يي په روانه او ساده ژبه د ماشومانو او کوچنيانو له پاره راپيل کړې دي.

ښاغلي دوديال د ماشومانو او کوچنيانو له پاره تر اوسه له فولکلوريکو منابعو څخه درې نکلونه په راونه ژبه ليکلي دي. دوديال صاحب د دې کيسو لړلی ته د **«د اڅک د پلار نکلونه»** سرليک ټاکلی دی.

کله چي د ماشومانو او کوچنيانو د ادبياتو په برخه کي د دوديال صاحب دې کار ته زما پام ورواوښت، نو ومي پتيله چي زه به **«د کوچنيانو ادبيات»** د مقالو په سلسله کي د ده پر دې هڅو هم يو څه ليکم. د ده ليکلي کيسي مي را کاپي کړې، د هغو تر لوستلو وروسته مي د خپلو معلوماتو د بشپړولو په غرض څو پوښتني له دوديال صاحب سره شريکي کړې. زما د پوښتنو او د ده د ځوابونو بشپړ متن داسي دی:«

آصف بهاند:

دانشمند دوست پوهاند محمدبشیر دودیال ته سلامونه او نیکې هیلې!

تاسو ته پته ده چې د نوي نسل د ښې او مدرنې روزنې په موخه د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې ما خپل ځېرنیز کارونه د شپیتمې لسیزې له پیل نه شروع کړي دي او په دې برخه کې مې لومړنی کتاب (د کوچنیانو ادبیات) په ۱۳۶۶ کال، په کابل کې چاپ شو، د مهاجرت په موده کې مې هم دا مهم کار پسې وغځاوه، په لسګونو مقالې مې ولیکلې او دا لړۍ اوس هم روانه ده.

تاسو بزرګوار ډېر پر ځای او ښه وخت **«د اڅک د پلار نکلونه»** لړۍ راپیل کړې ده، چې دا هم زموږ د ماشومانو او کوچنیانو او نوي نسل په ښې روزنې کې خپل ځای او ټاکلی رول لري. هیله دا چې د نکلونو دې لړۍ ته دوام ورکړئ، د نورې جدي پاملرنې ترڅنګ که لږ سرعت ورکړئ، لا به ښه شي.

د دې نکلونو دویمه برخه چې تاسو افغان جرمن پورټال ته رالېږلې وه، ما خپله نن انلاین کړه. ستاسو د نکلونو د همدې لړۍ پر ارزښت باندې غواړم د یوې مقالې په چوکاټ کې څه ولیکم. لومړۍ برخه یې چېرې خپره شوې ده؟ که یې لینک لرئ، ما ته یې راولېږئ. که د لومړۍ برخې ورد زما د شخصي ایمیل ته راواستوئ، لا به ښه وي، خپل ایمیل به د همدې لیک په پای کې کېږدم.

له مرستې نه مو همدا اوس مننه!

دودیال:

ډیر قدرمن استاد ښاغلی بهاند صاحب، السلام علیکم!

ډیره مننه  ستاسو ښکلی او له لورېینې ډک لیک می ولوست. دا چې زما لیکنه مو ستایلې، ډیره  مننه کوم.

ما ته مو د زړه قوت راکړ.

بالکل می یاد دی  ستاسو د شپیتمو کلونو بیا تر اوسه پورې چې د ځوانانو او نوی ځوانانو په هکله مو کار کړی او په مجموع کی ستاسو فرهنګی هڅې د نه هیریدو دي. ما ستاسو  دا زیار ګالنه له رحمت ځواکمن صاحب سره؛ چې   هماتله تاسو سره نږدې دی، هم یاده کړی ده.

الله  پاک مو بریالی لره. د افغانستان د راتلونکی نسل پر موږ لوی  پور دی خدای وکی  یوڅه ورته وکولای شو. تاسو لطف کړی، د لومړی برخې په هکله مو پوښتنه کړی،

سره له دی چې لومړنی برخه یی هم ستاسو په برکتی ګوتو همدې سایت کی خپره شوی وه دا دی د کار د آسانی لپاره  او د عنوان په لږ بدلون بیا ستاسو حضور ته تقدیم ده.  ستاسو دغه لیک ماته  قوی روحیه راکړه چې فرصت می پیدا کاو یوه ـ یوه لیکنه به درلیږم.

آصف بهاند:

اوبښئ بیا زحمت درکوم،

د لیک له ځواب نه مننه،

که دا په لنډ ډول راته ولیکئ چې د دې کیسو د لیکلو انګیزه ستاسو له نظره څه ده؟

او د کیسو د منابعو په باب هم که معلومات راته ولیکئ، زما د تر کار لاندې مقالې وزن به ډېر شي.

په افغان جرمن پورتال کې ستاسو د راغلي بیوګرافي په پای کې ستاسو د اثارو لست نیمګړی راته ښکاري، ایا څه له انلاین کېدو نه پاتې دي، که همدا بیوګرافي او د اثارو لست سم دی؟

له عالمانه مرستو نه مو مننه!

پوهاند دودیال:

ډیر قدرمن او مهربان ورور، معزز استاد او زموږ د پښتو درنی او خوږې ژبی معاصر لیکوال، جناب بهاند صیب، السلام علیکم !

د لیک له رارسیدو مو بیا هم ډیر خوښ شوم. تاسو پوښتنه کړی د ځوانانو او تنکیو ځوانانو لپاره مو د فوکلوریک کیسو انګیزه څه وه؟

احتراماً ډیر خلص عرض کوم:

زما یو ماما و، ارواښاد محمد یوسف خان. موږ ته به یی په کوچنیوالی کې د ژمی په شپو کی پخوانی نکلونه کول. خدای می دی غاړی نه بندوی له سلو ډیر نکلونه به یی راته ویلی وو، چی اوس مې تقریباً ټول هیر دي. خو په هغه خوند چی هغه نکلونه ویل، فکر نه کوم اوس یی څوک وویلای شی. ډیر څه به یی راته په لاسونو او حرکاتو(غیر شفاهی ژبه او بنه) هم انځورول چی زموږ به خولی ورته خلاصې پاتی وی. هغه بیسواده و، خو په هره خبره او کیسه کی یی لوی لوی حکمتونه وو. دغه نکلونه زیاتره یی د زړورتیا، پند او عبرت او تربیتي وو. شاید هغه به ډیر دقت کاوه چې هغه په اصطلاح آموزنده نکلونه موږ ته غوره کړی. له هغه راهیسی می نکلونو سره علاقه وه. کله چی ښوونځی ته شامل شوم، د کمکیانو انیس می تل لوست، هغو کی هم ډیرې ښکلی او مصورې کیسی وی. شاید غیر آګاهانه مې لاشعور کې د کیسو لیکلو او ویلو ارمان حک او انځور شوی وی؟

اوس چې خپل ژوند ته نظر کوم او ځان ارزوم، لله الحمد په درس ویلو، ورځنیو چارو او بیلابیلو ستونزمنو حالاتو کی می هر ډول سختیو سره مبارزه کړی او د ډیرو مشکلاتو سره ـ سره ځان ډیر ناکام نه ګڼم، ممکن یو علت یې له دغو نکلونو یو څه زده کول وی؟

یعنی د مشرانو له سرګذشتونو او نکلونو می تجربه ترلاسه کړی او ژوند کی راته په کار شوی ده. له بلې خوا لله الحمد په هیڅ ډول ناوړه عمل، اعتیاد، وخت بیځایه تیرولو، غیبت او ډیرو نورو نامناسبو بوختیاوو او عاداتو ښکیل نه یم (خدای وکړی خودستایی ونشی البته زه چی ځان ارزوم داسی راته ښکاری، خدای وکړی څوک می په ژوند نه وی خپه کړی) نو ایا تاسو څه فکر کوی؟ کله چی ما له نکلونو ډیر څه زده کړی وی او زما د شخصیت پرتکوین یی (زما له آنده) مثبت تاثیر کړی وي، نو راتلونکی نسل پر ما حق نلری چی لکه د خپلو مهربانو او مشفقو مشرانو په شان دوی ته هم د ژوند تجارت و لیږدوم؟ او آیا ونه غواړم چی دوی هم په دغه ډول جالبو کیسو بوخت کړم؟

له بلې خوا د آفاقی مطالعی او د ارواپوهنی د کتابونو په لوستلو دا راته ثابته شوی ده چی د راتلونکی کول د ښې روزنی په خاطر باید بیلابیلو تربیتی شیوو څخه کار واخلو یو یی هم نکلونه دی. نو زما چی سرو کار له ښوونی او روزنی سره دی او یو معلم یم، ایا دا می رسالت ندی چی د دوی لپاره د شجاعت، وطنپالنی او غوره اخلاقو انګیزه ورکوونکی نکلونه ولیکم؟

اذعان کوم چی زه به ممکن ډیر بریالی نه یم، خو خپل وس او توان پوری تلاش کوم.

ماشوم او تنکیو ځوانانو ته لیکنه تر ټولو ستونزمن او دقیق کاردی. ډیر پاخه او مجرب کسان دا کار کولای شی او بس. څومره لیکوال چی زه پیژنم، محدود شمیرو یی ماشوم ته لیکنی کړي، هغه هم هغو ډیرو بریالیو، یعنی هر څوک دا کار نشی کولای. ما ویل راځه تر خپل وس زه هم یو څه وکړم، نو توکل پرخدای دا چی تاسو لطف کړی او زه مو وهڅولم ما ته د یوی لویی پانګی ارزښت لري.

بله پوښتنه مو کړی چی منابع یی کوم دي؟

منابع هماغه څه دی چی یامی له خپل پورته ذکر شوی ماما څخه په یاد دی یامی له نورو اوریدلی، خو د ټولو ریښه زموږ د بډای او وېړ فرهنګ لرونکی ولس په معنوی شتمنی کی ده.

د ماشوم د ادبیاتو په هکله بحث او دی برخو کی کار کول له خپل صلاحیت څخه ډیر لوړ بولم، جرات هم نه کوم، خو ستاسی د پوښتنی د ځواب لپاره می یو دوه کرښي و لیکل که منظور شی.

خدای وکړی ډیر لنډ ځواب می ویلی وی او اقلاً د ناکامی نمری څخه بچ شوی اوسم.

اصف بهاند:

د وروستي ځل له پاره مې د دې مقالې د لا مستندېدو په پار دا پوښتنې ورولېږلې:

درانه دوديال صاحب ته بيا سلامونه!

د خپلې مقالې د ليکلو په پار مې بيا، بيا په زحمت کړئ، ما به په خپلې بزرگوارئ سره وبښئ.

يو څو لنډې پوښتنې:

ـ د چاپ شوو اثار لست کې مو شمېر اتيا ښوول شوی، خو د شمېرو په کومه برخه کې يوه شمېره ښايي سهواً هېره شوې وي، چې نهه اويا کېږي، يا به زه نه يم پوه شوی، هيله ده چې لارښوونه راته وکړئ.

ـ د زدکړو د ځانگې نوم مو راته وليکئ،

ـ «د اخک د پلار نکلونه» څخه مخکې مو د ماشومانو او کوچنيانو له پاره څه ليکلي دي يا ژباړلي دي که نه؟ که مو ليکلي او خپاره کړي وي، لنډ معلومات به راته وليکئ.

پخوا تر دې (د اخک د پلار نکلونه) مو د کوچنيانو د ادبياتو ته څه ليکلي يا ژباړلي دي که نه؟

بيا، بيا مننه!

دوديال ببرته په ځواب کې راته وليکل:

ستاسو له مهربانی ډک لیک څخه مننه،

یوه شماره کی یو کتاب پاتی دی هغه دا دی:

۸۰.اداری مکاتیب او تجهیزات. چی اکسوس همدا سرکال حپور کړی دی ، اما فکر کوم هغه لا اوس هم (چاپ ته چمتو) لست کې پاتی دی.

د کوچنیانو لپاره می (موږبیرته خپل کلی ته ځو) په نوم یو ناول لیکلی چی کابل پوهنتون کی دمعلمات مرکز ACKU په ۱۳۹۸ کال کی خپور کړی و، او د ماشومانولپاره مې د لنډو کیسو یوه مجموعه له

دری ښځه پښتو ته ژباړلی چې هغه هم په ۱۳۹۷ کال کی ACKUخپره کړی وه، نور کار می ندی کړی له دی لیک سره د اځک د پلار دنکلونو یوه بله کیسه هم دراستوم (مل ده).»

دوديال صاحب د ماشومانو او کوچنيانو له پاره د خپل ترسره کړي کار په باب پوره معلومات وړاندې کړ، زه د دې مقالې د ليکلو په برخه کې د دوی له عالمانه معلوات او مرستې نه د زړه له تل نه مننه کوم.

د دوديال صاحب دا ليکلې کيسې که په ځير ولوستل شي، ليدل کېږي چې په دې کيسو کې تربيوي اړخ ډېر قوي دی. که ميندې ـ پلرونه، ښوونکي او د کورنی مشران په دقيقه توگه ځينې مسايل د دې کيسو د لوستلو په ترڅ کې ماشومانو او کوچنيانو ته توضيح کړي، دا به د ماشومانو او کوچنيانو سره پر کيسې باندې د پوهېدو په برخه کې ډېره مرسته وکړي. خپله دوديال صاحب د دويمې کيسې په پای کې دا کار ترسره کړی دی او د کيسې د مهمو کرکټرونو په باب يې داسې معلومات وړاندې کړی دی:«

**يادونه** : اکبرخان د پښتو ولسی ادبياتو کې يو رينښتيانی اتل او مومن خان يو افسانوی اتل دی، د دغو اتلانو کيسې ارزی چې ماشومانو ته يې ووايو او وليکو. دوی ډير ځه ورځه زده کولای شي او په راتلونکی کرکټر يې اغيزه لري . دوی به د ولس رينښتيانی اتلان وپيژنی. دا لړۍ دوام لري.»



دوديال صاحب د لومړۍ کيسې په پيل کې په استادانه ډول کيسو ته د ورننوتلو مدخل داسې ليکلی او برابر کړی دی چې، کوچنيان خو پرېږده، چې په لوستلو سره يې د لويانو هم تلوسه وي چې له دې نه وروسته به څه پېښيږي. **«د اځک د پلار نکلونه»** د لومړي نکل په پيل يا مقدمه کې دوديال صاحب په استادانه مهارت سره داسې ليکلي دي:

«نوی کال پيل شو. نن نوروز و. اځک په ټول کلی کې هوښيار او د ټولگي اول نمره و، کوچنې ورور يې هم څه ناځه لوستونه زده کول، خو اول نمره نه و. اځک سږکال اتم ټولگي ته تللی و . نن د بزگر د ورځې رخصتي وه، خو سبا به لوستونه پيل شي. اځک نور کتابونه له ښوونځی ځخه اخيستی وو، يواځې د تاريخ کتاب يې نه درلود، نو پلار ته يې خپل ټول کتابونه وښودل. پلار په خط نه پوهيد، خو ډيرې کيسې يې زده وې، ډير ځايونه يې ليدلي وو، د ژمي په شپو کې به يې زامنو ته خواږه ـ خواږه نکلونه ويل. نن چې په نويو کتابو کې د اځک د تاريخ کتاب نه و، نو اځک ورته خپه و. پلار ورته وويل:

اڅک جانه خپه کېږه مه، سبا چې ښار ته ولاړم د تواریخ کتاب درته رانیسم. پلار به تاریخ ته تواریخ، فزیک ته فزیکات، هندسې ته یې اندزه او نجومیات او بیولوژی ته یې بایوولوجی ویل. د ښوونځی مدیریت ته یې دایره ویله او د ښوونځي ملازم ته یې څپړاسی ویل. اڅک په دې ټولو پوهېد چې پلار مکتب سره ډېر بلد ندی، نو ځکه د کتابونو نوم سم نشی ویلای. د اڅک کوچنی ورور له پلار څخه پوښتنه وکړه:

ابا، تاریخ کی څه لوستل کیږي؟

پلار ورته وویل: زویه، تواریخ کی زبردسته پخوانی کیسې دي، د غټو - غټو پاچایانو سرګذشتونه دي او د نیل او پیرعون نکلونه پکې راغلي، د کوی کاپ کیسې هم پکې شته.

دواړو هلکانو له پلار څخه هیله وکړه چی د تاریخ یوه کیسه ورته وکړی. پلار زامنو ته په ډېره مهربانی وویل:

ښه ده، زه به د زابلستان او سیستان نکل درته وکړم...»

د دې لړۍ د کیسو لومړنی برخې ته دودیال ښایي عمداً «د زابلستان او سیستان یو خوږ نکل» سرلیک ټاکلی وي او په همدې وخت کې یې لیکلې ده، کیسه په وطن کې د اوبو د مدیریت د پلان تطبیق په لړ کې د سلما بند د پرانستل کېدو سره هممهاله خپره شوه. دودیال د کیسې تر سرلیک لاندې دا هم وراضافه کړي وو:

«د کمال خان د بند د جوړیدو په مناسبت ځوانانو او نویو ځوانانو ته یوه لنډه فوکلوریکه کیسه»

دودیال په دې کیسه کې د ماشوانو او کوچنیانو په ژبه زموږ د وطن پر خپل ملکیت یعني اوبو او د دوښمن له لوري د ستونزو پر پیښولو باندې غبرګ او د خپل وطن عیني واقعیتونه چې د هغو ستونزو ریښې اوس هم موجودې دي او هره ورځ د افغانستان او د افغانستان د خلکو ښکاره دوښمنان د سلما بند د ورانولو هڅې کوي. د دې کیسې په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«... پلار بالښت لړ څه نور هم اړخ ته ورلنډ کړ څادر یې په زنګون را سم کړ او کیسه یې داسې وغځوله:

په ټول سیستان کې لویه خوشحالي وه، خلکو نوې جامې اغوستې، بازارونو باندې جنډۍ ځړول شوې وې او ډولونه ډنګول کېدل. اووه ورځې وروسته د زابلستان د پاچا لور د ګانو، سرو او سپینو زرو له یو کاروان سره په ښایسته ډولۍ کې سیستان ته راورسیدله. ختمونه وشول او یو بل ته مبارکی وویل شوه. کله چې د میرانشاه ښایسته لور د صابر شاه نږور شوه، نو ډېر ښه ښه کارونه یې شرو کړل. نجونو ته یې مدرسه جوړه کړه او د سیستان غریبو خلکو سره یې مرسته وکړه. د هغې ګانې او سرو او سپینو زرو په پیسو یې له سیند څخه ویالې او کانالونه هغو وچو دښتو ته وکښل چې کښت پکې نه کید، یوه ویاله دهغې دپلار په نوم او بله دهغې د خُسر په نوم شوه،اوس هم یوې لویې ویالې ته د صابرې ویاله او یوې بلې ته شاه جوی وایې. سیستان د دُنیا پرمخ یو اباد او له غلو- دانواو میوو ډک وطن شو، له هرګوټ څخه سوداګر په دې خوا رامات وو، د هیڅ شي کمی نه و. د سیستان نجونو، ښځو او ټولو خلکو شازادګۍ ته دُعاوې کولې اودهغې په هوښیارۍ یې ویاړ کاو.خو د خدای کړه و او د بنده ورته کاته و، دا وخت کوپارو یو لوی لښکر له غراغرومه په سیستان را روان کړ چی دغه آباد او ښیراز ملک ونیسی. دښمن غوښتل دسیستان د ابو بندونه، چې سیستان وربانډی آباد و، ونړوي. دا وخت یوناڅاپه اڅک وپوښتل ولی یې د اوبو بندونه نړول؟

پلار ورته وویل دښمن دسیستان آبادی او دسیستانیانو خوشحالی نشوه زغملای.

د اڅک ورور چې د کیسې د نورې برخې اوریدو ته بیړه وه دستی یی وویل، ښه ابا بیا څه وشوه، دښمن یی له کومه لوری راغی او دسیستان خلکو څه وکړل؟

پلار ورته په مهربانی وخندل، ځواب یې ورکړ:

زویه؛ د دښمن لښکر له پاردریا څخه راغی. د سیستان ځوانانو توریٖ ته لاس کړ او د وطن د ساتنې لپاره د پردیو د لښکر مخی ته ورووتل. د صابر شاه زړور زوی د لښکر په سر کې و. دوی پنځه کاله له دښمن سره په میړانه جګړه وکړه، سیستان یې تسلیمیدو ته ورنکړ، دښمن یې په شا تمبولو ته اړ کړ، خو د دښمن لښکر یو ګوډاګی په پټه سیستان ته راواستاو. هغه توریٖ جامې اغوستې وې او مول یې وهلی و چې څوک یې ونه پیژنی، هغه د دښمن له ملکه دوه توبرې زهر په آس باندی سیستان ته راوړل، هغه یې د هغو ویالو په اوبو کې واچول چې د سیستان خلکو او دسیستانیانو پوځ دهغو اوبه څښلې. کله یی چی وروستی توبره اوبو کې تشه کړه خدای دغه ګوډاګي څخه توره تیره جوړه او دغه ګوډاګی ځای پرځای توره شرمیدلی تیږه شوه. زهر په ویالو کې خواره شول او د صابر شاه پاچا د لښکر سپاهیان د زهرجنو اوبو په څښلو شهیدان شول. ښار دښمن ونیو خو لږ وخت کی شازاده د سیستان پاتی ځوانان راټول او دښمن یې له سیستان څخه ورک کړ. له هغه وروسته خلک تیره شوی ګوډاګی په تورو تیږو ولي او لانت وربانديٖ وایي. اوس د تور ګوډاګي په سر دومره تیږې ویشتل شوي دي چې لویه غونډۍ ورڅخه جوړه شوی ده. په تواریخو کی نیک او ښه خلک په ښه نوم یاد شوی او بد خلک په بد نوم...»



د دودیال صاحب د علمي کارونو، تدریسي بوختیاوو او ګڼو علمي ـ فرهنګي پروژو د پرمخ بیولو په اړخ کې که د کوچنیانو ادبیاتو دې راپیل کړې لړۍ ته خپله پاملرنه او لورېینه ډېره کړي، هغه فولکلوریکې کیسې چې یې له مشرانو څخه اورېدلي دي؛ په همدې پیل کړي سبک او خوندوره ژبه نورې ډېرې کړي او د لیکلو پروسه یې ګړندۍ کړي، ډېره به ښه وي؛ دا به د وطن د ماشومانو او کوچنیانو له پاره په راتلونکې کې ډېره ښه منبع وي او د نوي نسل د لا ښې روزنې له پاره به زموږ په ژبه او ادب کې یوه بله د اعتبار وړ منبع او ماخذ رامنځته شي.

د دې بحث په پایله کې ویلای شم چې پوهاند محمد بشیر دودیال د خپلو اثارو او افکارو په هنداره کې ما ته د یوه ریښتیني پوهاند او مدرس په توګه داسې ښکاري چې دی د نوي نسل د علمي روزلو او د سمسور افغانستان یو ریښتینی ارمانجن دی. ده دا خبره د خپل علمي ـ فرهنګي کار په اوږدو کې ثابته کړې هم ده؛ زما د دې ادعا ډېر ښه ثبوت د افغانستان په پوهنتونونو کې د دودیال اوږده موده تدریس او د ده اثار دي.

**د سمسور افغانستان او نیکمرغه افغان د ژوند د جوړېدو په پار**

**د پوهاند محمد بشیر دودیال د لا بریاوو په هیله!**